بسم الله الرحمن الرحيم

**ډېره ژړا او لږ خندا د مومن صفت دی!**

(ژباړه)

سعيد بن مسيب د حديث د سند په ذکر کولو سره روايت کوي چې ابو هريره رضی الله عنه وويل: رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

«**لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلاً وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا**» (سنن الترمذی)

**ژباړه:** *که په هغه څه چې زه پوهيږم، تاسو پوهېدلای، لږ به مو خندلای او ډېر به مو ژړلای!*

**د حديث توضيح:**

له علم څخه مراد هغه څه چې الله سبحانه وتعالی ته اړوند دي او له هغه چا غچ اخيستل دي چې د الله سبحانه وتعالی نافرماني کوي او له ډار څخه مراد هغه څه دي چې د نزع، د مرگ په حالت، په قبر کې او د قيامت په ورځ پېښېږي. په دغو حالتونو کې ډېره ژړا او لږ خند مناسب حالت دی.

همدارنگه دا هم معلومه ده چې د دغه حديث موخه وېرول دي او په حديث کې يې طبراني سبب داسې ذکر کړی: له ابن عمر څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د مسجد لور ته روان و، ناڅاپه يې پر يوې ډلې سترگې ولگېدې چې خبرې کوي او خاندي، و يې فرمايل: په هغه ذات قسم چې زما نفس يې په واک کې دی او وروسته يې همدا حديث بيان کړ. څخه حسن بصري څخه روايت دی چې وايي: هر څوک بايد پوه شي چې مرگ ورته راتلونکی دی، قيامت يې تمځای او د الله سبحانه وتعالی په حضور کې دريدل يې په مخ کې دي، نو هغه ته ښايي چې په دنيا کې غمجن واوسي.»

کرماني ويلي: په دغه حديث کې د بديع صنعت کارول شوی؛ د خندا پر وړاندې ژړا، د لږوالي پر وړاندې ډېروالی او دواړو يو بل ته مطابقت.

شک نه شته چې موضوع ډېره خطرناکه ده؛ ځکه د قيامت د ورځې وېره او وار خطايي ډېره لويه او عظيمه ده! ځکه خو اړتيا ده چې په تفصيل سره بيان شي، په داسې حال کې چې نن مسلمانان ډېر لږ دغسې چارو ته فکر کوي او هېڅ شک نشته چې مسلمانان نن تر ډېره په داسې څيزونو مصروف دي چې هېڅ عاقل بايد دومره په عميق ډول په دغو څيزونو اخته نه شي. د هغې له جملې څخه د فوټبال په سياليو مصروفه کېدل يادولی شو، چې کم شخصيته کسان لکه د سرکښه اوښې په څېر د لوبو په ميدان کې يو او بل لور ته ځغلي او نور خلک ترې خوند اخلي. خپل ارزښتناکه وخت پرې ضايع کوي او د دغو لوبغاړو په نومونو وياړي! د دغو لوبو په کنټرول،

څارنې او روزنې او د پردیو لباسونو کارول او د شریعت خلاف د همدغو لوبو د ترانو په ږغولو او د ممثلینو تربیه کولو، چې د دین څخه بې پروا هنرمندان دي، ستایي او عزت یې کوي. پرته له دې چې د نړۍ د ژوند په ارزښتونو او د اخرت د حساب په هکله فکر وکړي.

که مسلمانان د غیبو او اخرت په هکله د رسول الله صلی الله علیه وسلم په څېر پوهیدلای، حتما به یې لږ خندل او ډېر به یې ژړل. که مسلمانان د غیب او اخرت په اړه پوهېدلای، هېڅ کله به یې خپل ژوند د دنیا چارو ته نه وقف کاوه او هېڅ کله به یې په دې بوخته نړۍ کې د ښایسته ماڼیو په جوړولو او د لوړ ماډلو موټرونو په سورلیو ویاړ نه کاوه.

که مسلمانان د غیب او اخرت د اوامرو په اړه پوهېدلای، هېڅ کله به یې د لوړ لګښت ودونو او مال را ټولولو ته زړه نه وای ښه کړی. که مسلمانان د غیب او اخرت په اړه پوهېدلای، هره شېبه به یې د مسلمانانو پر حالت غم او افسوس کولای او د مسلمانانو د ماشومانو په ژړا، ښځو او سپین ږیرو به یې زړه خوږېدلی.

که مسلمانان د غیب او اخرت د اوامرو په اړه پوهیدلای، هره لحظه به یې د کافر غرب ښامار له خولې څخه د امت د نجات په اړه فکر کولای، چې شپه او ورځ په دې هڅه کې دی چې امت په فکري او فرهنګي څاه کې غرق کړي.

که مسلمانان د غیب او اخرت د اوامرو په اړه پوهېدلای، هېڅ کله به یې د اسلام د عظمت د بیا را ستنېدو یعنې د نبوت پر منهج د خلافت له بیا اعاده کونکو څخه مرسته او همکاري نه وای سپمولې.

اې ربه! مسلمانانو ته پوهاوی او علم ور په برخه کړه، ترڅو هغو چارو ته پام وکړي چې د الله سبحانه وتعالی له لوري پرې فرض شوي دي!